ليکوال: ملک اشفاق
ژباړن: زاهد خليلي
۱۸ نومبر ۲۰۱۴

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۸

علوم ـ د فکر د حرکت پايله ده

پروفيسر فلنټ وايي، چي د ابن خلدون د کتاب (مقدمي) په شپږمي برخي باندې بحث نه دی په کار؛ ځکه، چي دا برخه د هغو خلکو لپاره ده، کوم چي د عربي علومو او ادابو سره اشنا وي.

اصلي خبره داده، چي د مقدمي اخري برخي د اسلام د لومړيو څخه د اتمي هجري پيړۍ پورې د عربو د علومو او ادابو يو بشپړ تاريخ وړاندې کوي.

ابن خلدون لومړنی مسلمان دی، چي د مسلمانانو د ادبي او عقلي تحريک تاريخ يې په يوه نوي شکل باندې وليکه، دده څخه مخکي مؤرخينو يوازې هغه موضوعات ليکل، چي د مشهور شخصيتونو يا پيښو پورې تړل شوي وه.

ابن خلدون د نوي عصر د مؤرخينو د ادابو سره زيات نږديوالی لري؛ بلکه د هغوی څخه مخکي (لومړی) دی.

د مسلمانانو په ادبي تاريخ باندې د ابن خلدون د کتاب (مقدمي) د اخري برخي زيات اغيز پروت دی، که، د کتاب اخري برخه يې نه وه؛ نو، ترکي مؤرخ حاجي خليفه (۱۶۵۸ز) به خپل جامع کتاب (کشف انطنون فی اسماالکتب والفنون) نه وه ليکلی؛ ځکه دغه کتاب ته په لويديځ او ختيځ کي د يوه جامع کتاب په سترګه کتل کيږي.

ابن خلدون وايي، فکر د علم د حرکت پايله ده، فکر انسان ته د خدای تعالی لخوا يوه تحفه ده، چي انسان پرې د حيوان نه برتري حاصله کړې ده، انسان کولای شي، چي د خپل وروستي حد پورې پراختيا تر لاسه کړي؛ ځکه، دده د پراختيا اصلي وجه په مسلسل ډول تمرين کول دي.

څرنګه، چي ټولنيز فکر په ښاري او متمدن ژوند کي پوخوالي ته رسيږي، په دې ډول تمدن هم کولای شي، چي لوړو درجو ته ورسيږي.

ديني او طبيعي علوم

ابن خلدون پورته ذکر شوي علوم په دوه ډولو ويشي، د ديني علومو موخه د عقيدې شرح، د فرائضو تنظيم او د نورو قائمول دي، طبيعي علوم، فلسفي علوم او مابعدالطبيعات د ذاتي شعور او فکر پايله ده.

دغه دواړه علوم د هر يو قوم لپاره اړين دي؛ ځکه هيڅ يو قوم د دين او د انسانيت د فلسفي نه بغير نه شي پاتي کيدای.

په ځينو ځانګړو حالاتو کي ديني علومو مسلمانانو ته ځانګړې اهميت درلودلای دی؛ کوم اهميت چي نورو قومونو نه دی ليدلی، قران او حديث په عربي ژبه دي، په هر مسلمان فرض دي، چي هغه مطالعه کړي، په قران او حديثو کي د

مسلمانانو ټول قوانين او د ټولو مسائلو حل موجود دی، په داسي حال کې، چي د نورو قومونو په دينو کي دا ځانګړتيا نشته.
ابن خلدون د هغو علومو په اړه، چي ضروري دي، داسي وايي، علوم بايد لومړی په خپله ژبه کي ولوستل شي؛ ځکه، په پردی ژبه باندې لوستل د نيمايي علم لاسته راوړل دي.
هغه بيا وايي، چي په يوه وخت د دوه ډوله علومو يا فنونو (هنرونو) زده کول هيڅ قسمه مهارت نه شي رامنځته کولای (ياني يو فرد نه شي کولای، چي په دواړو کي په يو وخت کي پوره تکړتوب ترلاسه کړي).
کوچنيانو ته بايد په لومړي قدم کي اسانه زده کړه ورکړل شي، تر څو په دې سره ورو، ورو ستونزمنو مسائلو ته ورسيږي.

د تاريخ فلسفه

د ابن خلدون يو ستر کار د تاريخ د فلسفي رامنځته کول دي، دده څخه مخکي تاريخ يوازې د پيښو د بيانولو نوم وه، د پيښو تر منځ کومه اړيکه نه رامنځته کيده، بلکه تاريخ يوازې يو بياني حيثيت درلوده، د تاريخ په اړه داسي فکر کيده، چي ټولي پيښي اتفاقي(تصادفي) رامنځته کيږي.
ابن خلدون د نورو مؤرخينو نه يو ځانګړی او وتلی شخصيت دی، هغه تاريخ ته د يوې کيسي په نظر نه ګوري، بلکه تاريخ ته د يو ساينس (علم) درجه ورکوي.
هغه وايي، کله چي تاريخ په ژور ډول مطالعه، تجزيه او مشاهده کړو؛ نو، موږ به د غلطيو څخه ليري پاتي شو او حقائق به لاسته راوړو.
د تاريخ په واسطه موږ د خپلو مشرانو طريقي، د تيرې زماني اخلاقي حالت، د پيغمبرانو لارښووني، د حکومتونو سياست او د هغوی په لارو چارو باندې ښه پوهيدای شو، ددې ګټه به دا شي، چي موږ به د ټولو حقائقو په رڼا کي نيغه او درسته لاره انتخاب کړو.
ابن خلدون وايي، چي موږ د تاريخ څخه هغه وخت درسته ګټه اخيستی شو، چي ځان د ريښتياوو اساس ته ورسوو.
د اوسنيو شيانو د علت او اسبابو تشريح به وکړای شو او هغه عناصر چي د تاريخي پيښو تر شاه موجود دي، په ژور ډول به يې مطالعه کړو، ابن خلدون د خپل کتاب (کتاب العبر) په ليکلو کي دې ټکي ته متوجه وه، چي هيڅ مؤرخ دده څخه مخکي د تاريخ فلسفي مطالعه نه وه کړې.
هغه د ټولو څخه مخکي د تاريخ د بيروني او داخلي مانا تر منځ توپير بيان کړی دی، بيروني هيت په ځانګړو ځايونو او حالاتو کي د رامنځته شويو پيښو اړوند مالومات راټولوي، بلکه د تاريخ د داخلي مانا څخه موخه د پيښو پيل، د پيښو علت او په دلائلو باندې څيړنه کول دي، د ابن خلدون دې کار ته بايد يو علمي او ساينسي هڅه وويل شي.
د ابن خلدون کتاب (کتاب العبر) د نورو مؤرخينو برعکس د تاريخي پيښو درست نوعيت او او عوامل بيان کړي دي.
د علام په نظر که تاريخي اصول او طريقه له نظره وغورځول شي؛ نو، په تاريخي پيښو کي به غلطی رامنځته شي، که چيرته مؤرخ په تاريخي اصولو باندې پوه شي؛ نو، د غلطيو اصلاح کولای شي.
ابن خلدون په دې اړه موږ ته دوه بيلګي وړاندې کړي دي، د مؤرخ لپاره په کار دي، چي تاريخ ته بايد ځانګړی نظر وکړي، ياني د ټولني د نوعيت او طبيعت نه بايد په بشپړ ډول خبر وي.
د تاريخي پيښو د ثبتولو لپاره په کار دي، چي د پيښو په نوعيت باندې پوره پوه شو او د لاسته راغلو مالوماتو په اساس په بې پرې ډول وڅيړل شي، تر څو هغه مالومات چي درست دي، هغه قبول کړو او پاتي نور پريږدو، ابن خلدون د تاريخي پيښو د غلطو ثبتولو په عواملو باندې هم خبرې کړي دي، هغه په تدريجي تغير او تبديل باندې هم ږغيدلی دی.

ابن خلدون وايي، چي تاريخ په حقيقت کي د انساني ټولني په اړه د مالوماتو علم دی، کوم ته چي د نړۍ کلتور (ثقافت) ويل کيږي.
هغه وايي، تاريخ د اصلي پيښنو پوريږ تړلی علم دی، تاريخ د پيښنو مثبت يا منفي شکل دی.
دغه پيښني درستي يا غلطي کيدای هم شي، په دي پيښنو باندي د تنقيد يا تبصريږ په جريان کي، ځيرنه کول په کار دي، چي ايا دغه پيښني درستي دي که نادرستي.
ابن خلدون وايي، چي تاريخ دوه کومکي علومو ته اړتيا لري، لومړی د کلتور علم ته، د تاريخي پيښنو په نوعيت باندي غږيږي، دوم سند يا مأخذ ته اړتيا لري، د سند په واسطه کولای شو، چي تاريخي پيښني ثبت کړو او د تاريخي پيښنو په اړه مالومات ترلاسه کړو او د هغوی تجزيه او تحليل وکړای شو.
ستر علام ابن خلدون وايي، که چيرته د ټولو تاريخي دورو مطالعه وکړای شي؛ نو، مالوميږي، چي د ټولو پيښنو تر منځ د پرمختګ تاريخي اړيکه شتون لري.
دا يو غلط فکر دی، چي ځوک ووايي، مختلفي تاريخي دوري يو د بل نه جلا دي.
ځکه، تاريخي پيښني په مسلسل ډول يو د بل سره اړيکي لري.
علام ابن خلدون وايي، چي تېر، حال او راتلونکی يو ډول مثلث دی، که يوه زوايه تري ليري کړو؛ نو، هندسي شکل خپل اهميت له لاسه ورکوي.
هغه د ټولني د پرمختګ مطالعه کړي او تېر يي د حال سره مشابه ګرځولی دی.

خلافت

ابن خلدون وايي، د دين ساتنه، پراختيا او دنياوي سياست او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نيابت کول خلافت او امامت دی او ځای ناستي ته خليفه يا امام ويل کيږي، لکه څرنګه چي امام د مانځه او وخت تقليد او پيروي کوي، دي ته امامت کبری (ستر امامت) ويل کيږي او خليفه ورته ځکه ويل کيږي، چي د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په امت کي د نائب او خليفه رول اداء کوي، دي شخص ته کله خليفه يا خليفة الرسول هم ويل کيږي، ځيني علماء د خدای تعالی خليفه هم ورته وايي؛ خو، ډيری علماوو دا خبره نه ده خوښه کړي؛ ځکه، چي ابوبکر صديق (رض) د خليفة الله نوم نه وه خوښ کړی، بلکه د خليفة الرسول نوم يي ښه ګڼلی وه، ابن خلدون ددي لپاره دا دليل وړاندي کړی دی، چي خدای تعالی هر وخت حاضر او ناظر دی؛ نو، ځکه د هغه د خلافت او نيابت سوال نه پيداکيږي.

د خلافت وجوب

ابن خلدون ليکلي دي، چي د خلافت واجبيدل د صحابه او تابعينو نه ثابت دي، په دي ډول د خليفه يا امام ټاکل لازمي او ضروري دي، همدا وجه وه، چي د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د وفات نه وروسته صحابه کرام حضرت ابوبکر (رض) د لومړی خليفه په توګه وټاکه، ددي وروسته بيا اسلامي نړۍ کي داسي حالت رانه غی، چي خليفه دي موجود نه وي، د شريعت اصلي موخه د انسان ساتنه، د فساد او ظلم مخنيوی کول دي.
څو معتزله ډلي او ځيني مؤرخين په دي نظر دي، چي د خليفه يا امام ټاکل د عقل له نظره ضروري او واجب نه دي، دوی فکر کوي، چي د شريعت د تطبيق لپاره د امت موجوديت مهم دی، که چيرته ټول خلک د شرعي احکامو مطابق ژوند تېر کړي؛ نو د امامت يا خلافت ضرورت بيا نشته، ابن خلدون وايي، کله، چي ثابته شوه، چي ټولو اجماع کړي ده او د امام ټاکل واجب دي؛ نو، دا به د فرضي کفايي حيثيت لري.

د امام یا خلیفه ټاکل

ابن خلدون د امام د ټاکلو حق عوامو ته نه ورکوي، بلکه اهل حل او عقد ته يې سپاري او وايي، چې اهل حل او عقد هر څوک خلیفه وټاکه، عوام يې باید اطاعت وکړي؛ ځکه، د خدای تعالی وینا ده، چې تاسو د الله اطاعت وکړئ، د هغه د رسول اطاعت وکړئ او د هغه چا اطاعت وکړئ، چې په تاسو حاکمان دي.

نوربیا